فرستنده: بسمل
۰۶/۰۹/۱۰

**موږ په افغانستان کې ژر تر ژره اوربند غواړو**
**موږ له افغانستان څخه ژر تر ژره دخپلو پوځیانو راوتل غواړو**
**موږ دجګړې لپاره په پلان شوو پیسو ددوست هیواد افغانستان بیا ودانول غواړو**




د دریځ په ښی خوا کې د۱۴۰ شهیدو کندزیانونومونه او تصویرونه لیدل کیږي

درنو لوستونکو!

دا پاس درې مهمې غوښتنې پرون ګڼ شمېر المانانو په هغه لوی لاریون او مټنګ کې کولې کوم چې دجرمنې په مونشن ښار مارین پلاتخ کې تر سره شو.

مارین پلاتخ دمونشن ښار زړه بلل کیږي داد ګڼې ګونې یوه دا سې سیمه ده چې لسګونه زره المانان او بهرنیان پکې ګرزي راګرزي له همدې کبله ګڼ شمېرسوله دوستواوافغان دوستوالمانانوهمدلته زموږ د ولس او هیواد په ملاتړ لاریون او مټنګ تر سره کړ.



دلاريـــــــــــون او مټنګ مرکزي برخــــــــــــه

پرون خودسپتمبر څلورمه نېټه وه تاسوته به خامخا دتېرکال سپتمبر څلورمه نېټه درپه ياد وي چې په کندز کې دتېلودټانکرونو په پلمه زموږ له ۱۴۰ تو کندزي خويندواو ورونو څخه زيات کسان په يوه ظالمانه بمباري کې شهيدان شول ، دهغومظلوموشهيدانو لمړی تلين له افغانستان څخه زرګونه کيلو متره لرې همداپرون دلته په جرمني کې المانانو په داسې حال کې ولمانځه چې زموږ خپلو افغانانو آن دکرزي په ګډون لا يوه وړه يادونه هم ور څخه ونه کړه، کرزی او له هغه څخه راتاوکسان له ولس څخه بېل ګڼل کيږي ځکه خو يې دکندز شهيدان ياد هم نه کړل .
کرزي وړمه ورځ دامريکا د دفاع وزيرګېټس په وړاندې ولس ته ډوخوواري دکابل بانک په اړوند ځکه ډاډ ور کاوه چې هلته يې خپل وروږمحمودکرزی له نوروجنګي جنايتکارانو سره يو ځای پکې سريش دی، د نوموړي بانک هستې اونېستي که هرڅوميليونه يا مليارده هم وي خو زه د يو مظلوم او بې ګناه کندزي ياکوم بل بې ګناه افغان دسر يو وېښته هم نه پرې ورکوم په هر صورت را ځم پروني جريان ته .




دمټنګ په يو څنډه کې الماني پېغلو اوزلمو له جګړې څخه خپله کرکه څرګندوله

پرونی لاریون دغرمې په یوه بجه پیل او دمازدیګر په شپږو بجو ختم شو دنومووړي لاریون او مېتنګ لپاره ښه بندوبس نیول شوی و مثلاً :
دکندزپه بمباریوکي داکټروشهیدانو نومونه او دیوشمېر شهیدانو تصویرونه هم مېتنګوالوتر لاسه کړي وو، د دې تر څنګ یې دافغانستان په نوروسیمو کې هم دبمباریو او ټول وژنوتصویرونه مېتنګ ته راوړي وو، د عراق دجګړې اوابوغرایب دزندانیانو ځورونکي تصویرونه هم دوی لرل، ددوهمې نړیوالې جګړې هغه تصویرونه هم دوی راوړي وو په کومو کې چې جرمني هېواد دامریکا او پرنګیانو تر بمباریو لاندې و.







دالمان لپاسه هغه امریکایي الوتکه ښکارې کومې چې په دوهمه نړیواله جګړه کې برلین تر سخت بمبارد لاندې نیولی و

د دې ټولې ښې سازماندهي ترڅنګ دوی په زرګونو داسې پاڼې ووېشلې په کومو کې چې له جګړې او دناټو له سرزوري څخه کرکه شوې وه، په نومووړو پاڼو کې دافغان جنګي جنایتکارانو د مجللو ماڼیو تصویرونه هم تر سترګو کېدل له دې څخه ور آخوادوی په پرله پسې توګه دلاوډسپیکرونو په وسیله لارویان رابلل ترڅو په هغو ځانګړوکاغذونو لاسلیکونه وکړي په کومو کې چې پاس پورتني درې شعارونه یا غوښتنې لیکل شوې وې .




ګډونوالو پخپله خوښه تبلغاتي پاڼي وېشلي

دمتینګ ویاند دافغانستان له ټولو جریاناتو ښه پوره خبر او په دریځ حاکم مالومېده هغه دننني رامینځ ته شوي کړکېچن او دافسوس وړحالت علت د نړیوالي ټولني غیر مسؤلانه چلن په تېره بیا دافغان جنګي جنایتکارانو نازول اوچاغول وبلل، دایي هم ګډونوالوته ووېل ، چي کومي پیسي چي ستاسوله جیب څخه دمالي یا مرستي په پلمه وزي هغه ټولي دجنګي جنایتکارانواوکرزي له فسادڅخه ډکي پوډري اوولس دښمني اداري ته ورځي مانا افغان ولس ته یو سینټ هم نه رسیږي، هغه په دوبی کي دهغو مانیو په اړوند رناواچوله په کوموکي چي د نظار شورا غله او حامد کرزي ورور اوسیږي، هغه همدا راز د ولسمشري ټولټاکني په تېره بیادکرزي او غبرګ عبدالله له شرمه څخه ډکه سیالي اوجعلکاري دډیموکراسي سپکاوی وګانه دایي هم ووېل چي که ناټودهمدي تورو نقشو تر شا نه وي نو کرزی به یوه شیبه هم پاته نه شي ځکه چي په ولس تیکه نه لري لنډه دا چي دکرزي اداره یي دمخدره موادو په لا زیات تولید او بې ساري فساد په داسي حال کي ټکوله چي لسګونه زره ګډونوال ورته یو غوږ ولاړ وو .

زه چي مټنګ ته ور بلل شوی وم نویي دلاودسپیکر په وسیله ګډونوالو ته ور وپېژندم غږ یي وکړ چي نن له موږ سره د محمد امین بسمل په نوم هغه افغان آزاد لیکوال ګډون لري کوم چي له هیڅ یوو جابر څخه یې سترګه نه سوځي، د آزادو لیکنو تر څنګ په سختو شېبو کي د خپل ولس غږ پورته کوي ، دادی دریځ ته یي رابولم تر څو تاسو ته خپل نظر ووایي :

کور یي آباد زه هم درځ ته ورغلم بس نو مکروفون په لاس راغی ما هم په یرغلګرو داسي زړه سوړ کړ، داسي مي زړه پری سوړ کړ چي دا دنهو کلونو د بمباریو غچ مي څه ناڅه ورڅخه واخیست ، هغه څه مي ووېل چي یو شمېر کسان خو یي په اورېدلو هم لړزیږي .



په پورتني پلاکات کې دملګرو ملتونو دسازمان تر سيوري لاندې دنوي استعمار خونړۍ څېره ګورئ

په ۲۰۰۲ ز کال کې مې هم په همدې مارين پلاتڅ کې دافغانستان اشغال غندلی و پرون مې يوځل بيا په زغرده ګډونوالو ته ووېل چې د تروريزم او القاعده په نوم جګړه هسې مسخره ده دطالبانو دزوال لپاره د ۲۰۰۱ زکال له يوولسم دسپتمبر څخه لا ډېر دمخه امريکا خپل اروپايي متحدين دې ته تيارکړي وو چې طالبان له صحنې څخه په يو چل سره لرې کړي .
د((يونوکال)) او((برېداس)) دتېلوکمپنيو ترمينځ سيالي اودطالبانو نږدېوالی دارجنتايني (برېداس ))کمپنی ته ددې سبب شو چې امريکا خپل نيلي ته قمچينه ورکړي څکه خو يې جنرال مشرف برلين ته ولېږه تر څودالمان له صدراعظم ګيرهاردشرودير سره چل جوړاودطالبانوله ماتې سره سم د شمالي ټلوالې غله قدرت ته ورسوي مانا خبره دامريکا په سياسي، اقتصادي اواوږدې خونړۍ، ستراتيژي پورې تړاولري نه دسپتمبر په يوولسمه نېټه ، اسامه او طالبانو پورې که داسې نه وای او امريکايان زموږ پرمختګ اوسوکالي ته په رښتيا هم ژمن وای نوبيا يې ولې دافغانستان دبياودانولولپاره داسې مارشال پلان ترلاس لاندې نه نيو کوم يې چې له دوهمې




دتروریزم او القاعده په پلمه روانه جګړه دتېلو،ګاز او طبعي شتمنیو دزبېښلو لپاره روانه ده

نړیوالي جګړې څخه وروسته دالمان دبیا ودانولو لپاره تطبق کړ؟
زموږ هېواد خو امریکایانو او ورسره یرغلګرو نه تنها ودان نه کړ بلکې د نهو کلونو په پرله پسې بمباریوکي یې لا پسې ویجاړ او شاته وغورځاوه، په پښتون مېشتو سیمو یې هغه زهرجن او خطرناک بمونه وورول دکومو په نتیجه کې چې هم زموږ وګړو ته ډول ډول سرطاني ناروغۍ پیدا شوې اوهم زموږ خوینــــدې دنیا ته معیوب اولادونه راوړي له دې څخه که راتېر شوامریکا یا په اصطلاح نړیوالي ټولني زموږ د هېواد دساتني اوښه نظم لپاره د رښتیني ملي اردو او ملي پولیسو په ځای هغه پخوانی جنګي ملېشي له سره تنظیم کړې کومو به چې د ښځو سیني پرېکولې، د خلګو په سرونو به یې مېخونه ټکوهل، رقص مرده اوپه بټیو کې دبې ګناهو انسانانو ایره کول د دوی ورځنی مشغولتیا وه .
راغلونابللودخصوصي امنیتي کمپنیوپه نوم پورتني جنګي جنایتکیاران، داړه ماران اودشمال نوری منفوری ملېشي ځکه په پښو ودرولي چې زموږ هېوادبي نظمه اوکاواکه وساتي ترڅو مرکزي اداره د خپل اهمیت له لاسه ورکولو سره فیدرالي نظام ته لار پرانیزي او په نهایت کې زموږ ګران افغانستان راته ټوټه ټوټه کړي لنډه داچې دادنهوکلونو ټولي ناخوالي، په پښتون مېشتوولایتونوکې ټول وژني دشینواروله هسکي مینې رانیولي تر متاخان، زرمت ، خوست، کنړ، کنـدهار، هلمند، غزنـي، ارزګان، لغمان،ننګرهار، وردګو، د فراه عزیز آباد، زابل، کندز، دلیلي دښته ، د مزار جنګي کلا، دودونواوخوښیو په ګڼ شمېرمحفلونواو هدیروظالمانه بمباري مې ټولي ور یادې کړې .
دخبرو په پای کي مي دمتنګ له مسؤلینواوګډونوالوڅخه ډېره مننه وکړه چې زموږ له ولس سره یې غمشریکي ښرګنده کړې ده نور نو له دریځ څخه رابښکته شوم بیا ډېرو کسانو راسره یادګاري تصویرونه واخیستل او ښه پوره یې ونازولم کور یې آباد .




دزرګونو ګډونوالو دنظم لپاره یوازې دا دوه پولیس تر سترګوکېدل  ځکه چي  دلته خلګ  پخپله نظم اوقانون مراعتوي







دابوغرایب زندان ځورونکي انځورونه او دآزادي په پلمه  دتورو تیارو خپرول




دا و دیروني لاریون او مټنګ لیکلی او انځوریز رپوټ

یادونـــــــــــــــــه :

تیر کال چي په ځلورم دسپتمبر په کندز بمباري وشوه نو په دا سبا یي ما خپل غبرګون د آزادي رادیو لـه لاري وښود، هیله من یم چي زموږ درانه اوهېوادپال وییباني چلوونکي بـه لـه دي رپوټ سره یوځای زماهغه غبرګون او له آزادی رادیوسره زما پرونی مرکه خپره کړي .